مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخړ ۲۰۲۲/۰۴/۲۰

# د ښځو لیک لوست په اسلام کې (د نجونو زده کړې)

(پنځمه برخه)



**افغانان د خپلو لونو دښمنان:**

افغانانو په ځانګړي توګه یو شمېر پښتني کورنی، د پښتونولي یا د اسلامي حجاب په نوم د ښځو د پردې په هکله له افراطه ډکې کړنې ترسره کوي چې د پردې په نوم نجونو ته اجازه نه ورکوي، زده کړې وکړي او ښوونځی ته ولاړې شي، دوی د اسلام او پښتونولی د سَتر په نوم تر هغې افراط کوي چې له امله یې کړنې د جاهلیت دوّر ته ورګرځي او مخامخ له اسلامي شریعت سره په ټکر کې دي، دوی په دې نه پوهیږي چې ښځه مور، ښځه خور، ښځه لور او تر دې چې «ښځه د سړي لباس دی او سړی د ښځې»:﴿هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ﴾ (بقره: ۱۸۷) فکر نه کوي چې که ښځه نه وای نو انسان به نه ؤ، نه پوهیږي چې ټول پیغمبران له ښځو پیدا شوي دي، عیسی (ع) یوازې له ښځې (بي بي مریمې) څخه پیدا شوی دی په داسي حال کې چې سړی نه دی ورنږدې شوی.﴿وَمَرْيَمَ ابْنَتَ عِمْرَانَ الَّتِي أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيهِ مِن رُّوحِنَا وَصَدَّقَتْ بِكَلِمَاتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهِ وَكَانَتْ مِنَ الْقَانِتِينَ﴾ ژباړه:«او د عمران لور مریم چې خپله لمن یې پاکه ساتلې وه، موږ په هغې کې له خپل لوري روح پو کړ.» (تحریم: ۱۲)

هو! همدا پښتانه دي چې کله یې په کور کې لور وزیږیږي له داسې حالت سره مخ شي، ته به وایې چې له آسمانه ټکه پرې راپرېوته او یا یې په کور کې د سر دښمن پیدا شو:

﴿وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِالْأُنثَىٰ ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ﴾

ژباړه:«کله چې له دوی څخه یو چا ته د لور د زیږېدو زېری ورکول کیږي، نو مخ یې تور اوړي او له قهره ډک وي.» (نحل: ۵۸؛ زخرف: ۱۷)

داسي خلک هم شته او لیدلي مې دي، هغه ښځې چې پرله پسې لونه زیږوي د میرونو له لوري تر فشار لاندې دي چې ولې لونه زیږوي په داسي حال کې چې لور یا زوی د الله تعالی له لوري ورکول کیږي دا د ښځې په واک او وس کې نه ده:

﴿لِّلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ ۚ يَهَبُ لِمَن يَشَاءُ إِنَاثًا وَيَهَبُ لِمَن يَشَاءُ الذُّكُورَ أَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَإِنَاثًا ۖ وَيَجْعَلُ مَن يَشَاءُ عَقِيمًا ۚ إِنَّهُ عَلِيمٌ قَدِيرٌ﴾

ژباړه:«الله د آسمانونو او ځمکې د پاچاهی مالک دی، څه چې غواړي پیدا کوي یې، چا ته چې یې خوښه شي لوڼي ورکوي. چا ته چې یې خوښه شي زامن ورکوي. او چا ته یې چې خوښه شي زامن او لوڼي دواړه ورکوي او چا ته یې چې خوښه شي شنډوي یې. هغه پوه او قادر دی.» (شورا:۴۹-۵۰)

بده خو لا دا چې همهغه نجوني چې د زیږدو پر مهال یې پلار تور او شین اوړي خو کله چې د خدای او انسانانو پر وړاندې لویه ګناه (قتل) وکړي نو د خپل ژوند د ژغورلو په بدل کې خپله بې ګناه او معصومه لور یا خور د ځارویو په څېر د وینې د بیې (دیة) په توګه ورکوي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

پښتانه پر خپلو لوڼو د (ولور) په نوم پیسې اخلي او د ښاروپو په څېر يې پلوري، هغه د میراث حق چې قرآن ورکړی دی، نه ورکول کيږي، کونډه ښځه په خپله خوښه (لکه څه ډول چې قرآن ويلي دي) میړه نه شي انتخابولی، له دې امله ده چې پښتون قوم په دې مشهور دی چې یوازې (نيم قرآن مني) ځکه خو «شېطان د هغوی عملونه د دوی لپاره ښایسته کړي دي» ﴿لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ﴾ (النمل: ۲٤)
او د خپلي ناپوهۍ او افراط له کبله له خپلو لوڼو سره د پخوانیو عربو جاهلانو په څېر چلند کوي، عربو جاهلانو خپلې لوڼې له دې کبله په خاورو کې ژوندۍ ښخولې چې ښځو ته د انسان په سترګه نه کتل کيدل:﴿وَإِذَا الْمَوْءُودَةُ سُئِلَتْ بِأَيِّ ذَنبٍ قُتِلَتْ﴾ ژباړه:«کله چې له ژوندې ښخې کړای شوې جلکۍ څخه پوښتنه وشي چې په کومه ګناه وژل شوې ده؟» (تکویر: ۸-۹)
نجونې چې د سړيو په شان انسانان دي او د سړيو غوندې، الله تعالی د زده کړو وړتیا (استعداد) ورکړې ده، نو هغوی چې خپلې لوڼه زده کړو ته نه پرېږدي او د خدای (ج) له لوري ورکړی شوی استعداد يې له خاورو سره خاورې کوي هماغه د پخوانیو عربو جاهلانو کړنې ترسره کوي، داسې لکه خپلې لوڼه چې ژوندۍ په خاورو کې ښخوي. «آیا هغوی ته د دوی عقل د دغو کړنو امر کوي؟ که له حده تېرشوي خلک دي؟» ﴿أَمْ تَأْمُرُهُمْ أَحْلَامُهُم بِهَٰذَا ۚ أَمْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُونَ﴾ (طور: ۳۲)
پښتنو کې داسې ناپوه او ړانده مسلمانان هم شته چې خپله يې لمونځ په سمه توګه نه وي زده خو د ښوونځی او زده کړو پرخلاف فتواګانې ورکوي په دې هکله زما د سترګو لیدلی حال داسې دی چې د برهان الدین رباني د واکمنۍ پر مهال، ما د خپل کلي په جومات کې، د پاملرنې موسسې پر مرسته د ماشومانو د زده کړو یو ټولګی جوړ کړی ؤ، دغه ټولګي ته له نږدې کلیو څخه ماشومان راتلل، د دغو ماشومانو په ډله کې د اسلامي ګوند د يو قوماندان زامن هم وو، دغه قوماندان چې بې سواده ؤ، تل يې له ځان سره کلاشنیکوف ګرځولو، ډېر ښه سړی ؤ، تل به مو ټوکې سره کولې. يوه ورځ موږ خو کسان سره ناست وو، چې زموږ د کلي له جومات څخه زده کوونکي ماشومان رخصت شول، قوماندان صاحب چې ماشومان ولیدل چې د ده ماشومان هم په کې وو، ويې ویل:«ښوارلس کاله مو له خلقیانو سره وویشتل، بیا به له دغو مکتبیانو سره وژنو... »
کله چې د ده خبرې پای ته ورسیدې، د ښوونځي ماشومان هم زموږ خوا ته راورسیدل، نو ما خپل زوی مومند آغږ (چې هغه مهال څلور کلن ماشوم ؤ، خورا ډېر هوښیار او لایق ماشوم ؤ) او د قوماندان دوه تنه زامن مې راوغوښتل، لومړی مې د ده زامنو ته وویل چې لمونځ ولولئ او بیا مې قوماندان ته وویل چې اوس ته لمونځ ولوله، لنډه دا چې له پلار څخه يې زامنو ښه لمونځ یاد ؤ، ځکه چې دوی په ټولګي کې له خپل ښوونکي څخه کتابي لمونځ زده کړی ؤ، وروسته مې خپل زوی ته وویل چې شپږ کلمې ولوله، هغه په ډېر ښه ډول سره ټولې کلمې ولوستلې، خو کله مې چې قوماندان ته وویل چې ته په دې شپږو کلمو کې یوازې دوه کلمې ولوله، هغه وویل:«قسم شه که زده مې وي.» بیا مې ورته وویل: ښه ده طيبه کلمه ولوله. ده بیا وویل:«قسم ده که مې زده وي.» قوماندان صاحب نومړي کلمه زده وه خو په دې نه پوهيدو چې کلمه طيبه کومه کلمه ده؟
ډېر کلونو وروسته (د حامد کرزي د واکمنۍ په لومړيو کې) زموږ د کلي يوې حقوقي دعوې د حل لپاره د خوست د څو قومونو مشران چې يو تن مولوي صاحب هم په کې ؤ، زموږ په کلي جرګه وو، چې د مشرانو په ډله کې هماغه قوماندان صاحب هم شامل ؤ، دا مهال یو چا راته وویل چې قوماندان، پرون په خپل جومات کې ویلي دي چې (جهاد وکړئ جهاد فرض دی) موږ چې له پخوا ټوکې سره درلودلې ومې ویل: فلانيه! بیا دې فتوا ورکړې ده... ده وخندل ويې ویل:«واله چې جهاد خو فرض دی.» وروسته مې د قومونو مشرانو ته وویل دا وګورئ داسې یو وخت ؤ چې کلمه طيبه يې نه پیژندله، اوس فتواګانې صادروي. قوماندان وویل:«ولې مې نه ده زده.» سمدلاسه يې د شهادت کلمې لوستل پیل کړل، مخکې له هغې چې زه غږ پرې وکړم، مولوي صاحب چې ډېر ښه سړی ؤ په خندا يې وویل دا خو د شهادت کلمه ده، ټولو مشرانو وخندل ... .



۱۴۰۱/۱/۳۰ل. ل
نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ